مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۰/۰۳/۲۳

# غزل

بلي دي بيا په مونږ لمبي کړې، بس دی
ډکي دي زمونږه هديرې کړې، بس دی

توټې، توټې ذرې، ذرې دي کړو مونږ
په وينو سرې دي جنازې کړې، بس دی

ساقي په دار، ملا محراب کښې شهيد
رنګ دي جمات او ميخانې کړې، بس دی

د بيوسی اور سم ايره، ايره کړم
جوړې دي ما ته انديښنې کړې، بس دی

شاعرانه احساسه خوب دې يوسه
وينې دي بيا د غم نغمې کړې، بس دی

د پسرلي په ښکلا هم پوه نه شوو
راته ترخې دي خوږې شپې کړې، بس دی

مصطفی پسرلی
23/03/2020



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ